هفته نامه

# معارف

اوونیزه

معارف د هوساینې، پرمختګ، ګډ ژوند او تلپاتې سولې لپاره

د تاسیس کال ۱۳۸۱ پرله پسې ۱۷۰مه ګڼه د ۱۳۹۳ کال د وري میاشت

جمادی الاول — د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه — March

## د ۱۳۹۳ تعلیمي کال د پیل په مناسبت د پوهنې د جلالتمآب وزیر پیغام

### خصوصي سکتور دې زموږ د ټولنې د ودې لپاره د یوه خوځیدونکي ماشین په توګه د پرمختګ اصلي عنصر (پوهنې) ته زیاته پاملرنه وکړي

خوښ یم، چې د افغانستان د پوهنې په تاریخ کې معارف د هوساینې، پرمختګ، ګډ ژوند او تلپاتې سولې لپاره تر امید ښونکي شعار لاندې له نویو هیلو سره یو بل نوی کال پیل او یو ځل بیا د ښوونځي زنګ په کړنګېدو راغی.

له هر څه د مخه درنو هېوادوالو، د پوهنې مینه والو، ښوونکو، زده کوونکو او د پوهنې د ستر او ځلېدونکي کاروان فرد فرد ته د ۱۳۹۳ تعلیمي کال د پیل او د ښوونځي زنګ د کړنګېدو په مناسبت د زړه له کومې مبارکي وایم.

هیله ده چې نوی تعلیمي کال په ګران افغانستان کې د سراسري سولې د تامین، آبادۍ، نیکمرغۍ او هر اړخیزې ښیرازۍ کال وي.

له نیکه مرغه موږ ۱۳۹۳ تعلیمي کال په داسې حال کې پیل کوو، چې د پوهنې ستر کاروان په خپلو ټولو ملي برنامو کې له ګڼو پرمختګونو او لاسته راوړنو سره یو ځای د ښوونیز انکشاف په یوه روښانه پړاو کې قرار لري. په تېر ۱۳۹۲ کال کې زموږ ۱۰،۵ میلیونه زده کوونکي، طالب العلمان او محصلین د ۲۱۰ زره تنو ښوونکو او مدرسینو له خوا په ۱۶۶۰۰ بابه



تعلیمي موسسو کې په زده کړه بوخت وو او د همدغه کال په بهیر کې مو د خپل هیواد د پوهنې په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د پوهنې په پنځو نړیوالو بنسټونو کې د غړیتوب ویاړ ترلاسه کړ، چې په نتیجه کې به یې د پوهنې نظام په نړیوالو توګه له ګڼو برياوو، آسانتیاوو او پرمختګونو سره مخ شي.

په ۱۳۹۳ تعلیمي کال کې به د لوی خدای په مرسته د پوهنې په نظام کې ۱،۷ میلیونه نوي زده کوونکي جذب، ۱۱ زره تنه نوي ښوونکي به توظیف او ۸۹۵ بابه نوې تعلیمي موسسې به جوړې شي او همداراز به د عمومي زده کړو په برخه کې ۶۰۰ بابه لومړني ښوونځي ، منځنيو ښوونځیو او ۴۴۰ بابه منځني ښوونځي به د لیسې درجې ته لوړې شي.

د پوهنې هر اړخیز پرمختګ راز زموږ د پراخ بنسټه اومتوازن تعلیمي نصاب د بشپړ رعایت او تطبیق، د اړوندو مسوولینو د مخلصانه هڅو، ښه مدیریت، ګټور تدریس، ښې روزنې او په اغیزمناکه توګه د پوهنې د ټولو پروګرامونو په پلي کولو کې نغښتې دي.

له همدې کبله د معارف د لوی کاروان له ټولو مسوولینو څخه په جدي ډول غوښتنه کیږي، چې د نوي تعلیمي کال له پیل کېدو سره سم، د ښوونیزو پلانونو پر بنسټ په کمي او کیفي لحاظ د پوهنې پرمختګ په برخه کې ګړندۍ هڅې پیل او د افغان ولس د بچیانو په سالمه روزنه کې خپله دیني وجیبه او ملي دین په خورا جدیت سره ادا کړي.

موږ به نوی تعلیمي کال په دې سپیڅلي ملي عزم سره پیل کوو چې د ۱۳۹۴ هجري لمریز یا ۲۰۱۵ زیږدیز کال په پای کې باید له تعلیم څخه د ښوونځي د عمر ټول پاتې ماشومان نجونې او هلکان په ښوونځي کې شامل کړو او په زغرده نړیوالو ته اعلان وکړو، چې افغانستان د دریمې زریزې پرمختیایي موخو یا MDG خورا مهم او نړیوال هدف ( زده کړه د ټولو لپاره) ته رسیدلي او په دې برخه کې شویو ملي او نړیوالو تړونونو ته د ژمنتیا له

مخي يې خپل ملي... ۲مخ

## گزارش مختصر دست آورد ها و مؤفقیت های وزارت معارف در سال ۱۳۹۲

وزارت معارف منحیث یك ارگان عالی تعلیمی و تربیتی دولت وظیفه دارد تا تسهیلات لازم تعلمی وتربیتی را برای تمام اتباع کشور اعم از زنان، مردان و جوانان فراهم نموده و در اختیار آنان قرار دهد.

وزارت معارف بخاطر ترتیب و تنظیم هرچه بهتر اهداف و فعالیت های تعلیمی و تربیتي خویش پلان ستراتیژيك ملی معارف را ترتیب و تمام فعالیت های خود را در پنج برنامه اصلی تنظیم نموده که قرار ذیل است.

۱- تعلیمات عمومی و اسلامی

۲- انکشاف نصاب، تربیه معلم و مرکز ساینس.

۳- تعلیمات تخنیکی و مسلکی

۴- سواد آموزی

۵- اداره معارف و انکشاف مدیریت ستراتیژیک

**در بخش تعلیمات عمومی و اسلامی:**

– معارف افغانستان در سال ۱۳۹۲ انکشاف سریع نموده که این انکشاف سریع از طرف منابع داخلی و خارجی تائید گردید است.

– وزارت معارف کشور در راپور سالانه که بخاطر ارزیابی انکشافات اهداف هزاره (میلینم) از جانب وزارت اقتصاد افغانستان صورت گرفته مقام اول را احراز نموده است.

– طبق این راپور وزارت معارف (۷) سال قبل از فرا رسیدن معیاد معینه، اهداف تعین شده را بدست آورده است...

۲مخ

## د پوهنې وزیر ښاغلي فاروق وردګ ته د سرو زرو مډال ورکړل شو

د پوهنې برخې ته د ښو خدمتونو، ښې پلانګذارۍ، ښه مدیریت او غوره شخصیت له امله د افغانستان د پوهنې وزیر ښاغلي فاروق وردګ ته د سرو زرو مډال ورکړل شو.

دغه مډال په کابل کې د دوو علمي او کلتوري ادارو ژوند ګروپ آف کمپنیز او ګرین موشن لخوا د کار سرې په نامه پروګرام کې ورکړل شو. د ژوند ګروپ آف کمپنیز مشر یاد مډال د هغو چارواکو لپاره د تشویق او ستاینې یوه وسیله وبلله، چې د هیواد لپاره بنسټیز کارونه کوي او په خپلو چارو او مسوولیتونو کې ښه ځلېدلي دي. هغه وویل، چې پخوا تر دې په افغانستان کې داسې دود و، چې د ژوندیو قدر چا نه کاوه او ټول د کار سړي به تر مرګ وروسته لمانځل کېدل، خو اوس دا کلتور بدل شوی او مشران او د کار خلك مو په ژوند کې لمانځل کېږي او ستاینه یې کېږي. د پوهنې وزیر ښاغلي فاروق وردګ د پروګرام له



جوړوونکو مننه وکړه، چې دپوهنې په برخه کې یې د شویو کارونو ستاینه او قدردانی وکړه. هغه ټینګار وکړ، چې معارف ته به نه ستړې کېدونکي هلې ځلې کوي او تر هغو به دغه هڅې جاري ساتي، څو هیواد مو په پوهنیز ډګر کې د نورو سیال شي. ښاغلي وردګ زیاته کړه، چې د ولس د همدې ډول ملاتړ او هڅونو په پایله کې همدا اوس د افغانستان لس نیم میلیونه ماشومان او زلمیان ښوونځیو ته ځي، ۱۶۶۰۰ ښوونځي فعال دي او د هیوادوالو د سواد او زده کړې کچه د لوړېدو په حال کې ده. نوموړي وویل: ˝ یاد مډال زما پر اوږو یو بل داسې درونډ پېټی دی، چې د پوهنې په برخه کې د لا زیات کار او خدمت غوښتنه کوي. ددې پېټي د ځای ته رسولو په موخه به شپه او ورځ کار کوم او خپل هیواد به د علم په ډګر کې د سیالانو سیال جوړوم˝.

د یادونې وړ ده، چې ژوند ګروپ آف کمپنیز او ګرین موشن اداره هر کال د کار سړي په نامه مډالونه هغو هیوادوالو او چارواکو ته ورکوي، چې په خپلو کاري برخو کې یې ستري او مهمې لاسته راوړنې لرلې وي.

## په نوي کال کې به ټول زده کوونکي کافي کتابونه ولري

د پکتیکا د پوهنې ریاست چارواکي وایي چې په راتلونکي تعلیمي کال کې به د نوموړي ولایت د ټولو زده کوونکو د کتابونو د کمښت ستونزه هواره شي، دوی وایي چې اوسمهال یې د اوه زره ښوونکو د ظرفیتونو د لوړولو



له پاره هم څوارلس میاشتنی روزنیز پروګرام ترلاس لاندې نیولی، چې دې کار سره به د دې ولایت د پوهنې بهیر په کیفیت کې د پام وړ ښه والی راشي.

د پکتیکا د پوهنې رئیس کوچی ځاځی وایي، چې نوي ښوونیز...

٤مخ

## د نویو ښوونکو د ګمارنې سراسري آزموینه واخیستل شوه

د پلازمېنې کابل په ګډون د افغانستان په ۳۲ ولایتونو کې د نویو ښوونکو د ګومارنې سراسري ازموینه واخیستل شوه. یاده آزموینه په یوه وخت په ټولو ولایتونو کې د سهار پر ۱۰ بجو پیل شوه او تر غرمې پای ته ورسېده. په کابل کې د نویو ښوونکو د ګومارنې بهیر د پوهنې د وزیر ښاغلي فاروق وردګ او د اداري



اصلاحاتو او ملکي خدماتو د کمیسیون د مشر ډاکټر مشاهد لخوا پیل شو. د پوهنې وزیر وویل، چې په آزموینه کې شاوخوا ۳۰ زره کسانو برخه واخسته، چې له ډلې به یې ۱۱ زره کسان استخدام شي. هغه یاد بهیر د هیواد تعلیمي سیستم ته د مسلکي استادانو د شفاف انتخاب یوه ښه لار وبلله او ژمنه يې وکړه، چې تل به يې هڅه داوي، چې د هیواد د ځوان نسل د روزلو لپاره تکړه او مسلکي استادان په کار وګوماري. .د پوهنې د وزیر د معلوماتو له مخې یاده ازموینه په یوه وخت کې له دایکندي او نورستان پرته، چې هوا په کې مساعده نه ده په ټول افغانستان کې اخیستل کېږي. د معارف وزارت د نظارت د عمومي ریاست د وروستیو معلوماتو له مخې، ازموینه په ټول هیواد کې له مرکزه د استول شویو څه باندې ۱۰۰ پلاوو او ولایتي استازو په موجودیت کې په ډېر ښه ډول واخیستل شوه .

د افغانستان د پوهنې وزارت له تېرو دوو کلونو راهیسې د آزادې سیالۍ له لارې په کب میاشت کې د ښوونکو د جذب سراسرى ازموینه اخلي، چې په پایله کې یې زرګونه نوي او مسلکي استادان معارف ته جذب شوي دي. ددې ازموینې شرط دادی، چې ګډونوال به یې لږ تر لږه د څوارلسم ټولګي فارغان او په خپله تخصصي څانګه کې تکړه وي.

د افغانستان د اداري اصلاحاتو کمیسیون مشر ادا ډول ازموینې د معارف د کیفیت په وده او د شفافیت په رامنځته کولو کې مهمې وبللې. هغه د پوهنې وزارت د تېرو څو کلونو لاسته راوړنو ته په اشارې وویل، چې معارف توانېدلی، چې د کمیت ترڅنګ د کیفیت په برخه کې هم مهمې او د پام وړ لاسته راوړنې ولري.

تېر کال هم په یاده آزموینه کې تر ۳۰ زرو ډېرو کسانو برخه واخیسته، چې زرګونه تنه یې د پوهنې سیستم ته جذب شول.

ددې ترڅنګ د معارف وزارت په نوښت په کابل کې د ښوونکو د مهارتونو امتحان هم اخیستل کیږي. ددې ازموینې موخه داده، چې د معارف ټول استادان د ملکي خدماتو سیستم ته شامل او د رتبو او معاشاتو سیستم پرې پلي شي.

## سرمقاله :

# نوی تعلیمي کال د ښوونځي د زنگ په وهلو سره پیل شو

د نوي کاَل لومړی ورځ زموږ په لرغوني او تاریخي هیواد کې په ځانګړو مراسمو سره لمانځل کیږي. په دغه ورځ ځوانان، نجونې او هلکان نوې جامې اغوندي او د ونو او بوټو په شان خپل رنګ تازه کوي او د نوي کاَل د هرکلي لپاره دښتو او صحرا ته وځي او د پسرلني شینیلیو او پاکې او صافې هوا څخه خوند اخلي او سبزه کوبي کوي، بزګران د دهقان د میلې په جوړولو او شاعران او لیکوالان د پسرلي د وصف او ستاینې په ویاړ مشاعرې جوړوي او سندرغاړي په پسرلنیو سندرو د کاَل نوې ورځ لمانځي او د خوښي او خوشحالي ډک مجلسونه جوړوي. زموږ د خلکو انګیرنه داده چې که ثوك د کاَل لومړی ورځ په خوښۍ تیره کړي نو ټول کاَل ور باندې په خوښي تیریږي، زیاتره، خلك د سخي د جنډې د پورته کولو په مراسمو کې د ګډون لپاره چې هغه د خیر او برکت زیری ګڼي د شاه ولایتمآب حضرت علی کرم الله وجهه روضې ته ځي، په ښارونو کې د منډوي ګانو جنډې پورته کیږي او خلك په دې کار سره د الله (ج) له دربار څخه غواړي چې نوی کاَل یې د فراواني، سمسورتیا او ښو حاصلاتو د لاسته راوړلو کاَل وي او د فقر او بد بختي څخه د نجات او خلاصون په خاطر د خپل رب دربار ته د دعا لاسونه پورته کوي.ځینې نور بیا د نذرونو او خیراتونو په ورکولو او اوه ډوله سبو په پخولو او اوه ډوله میوو څخه د شربتونو په جوړولو د نوي کاَل هر کلی کوي. د کاَل د نوې ورځې (نوروز) لمانځنه زموږ په لرغوني کلتور او فرهنګ کې ډیرې اوږدې ریښې لري پخوانیو آریایانو هم د کاَل نوې ورځ د کار او زیار د پیل او دځمکې د بیا را ژوندي کیدو او د روزي د پراخیدو د پیل د ورځې په توګه په خوښیو او خوشحالیو لمانځله، کوشانیان به په نوی کاَل کې خپلو خلکو ته د کرنې او اوبو لګولو دسیستمونو د جوړولو په باب لار ښوونې کولې او خلك به یې کېښت، زراعت او د حاصلاتو زیاتولو ته هڅول. زموږ بزګران او بڼ واَل هم د تیر په شان په خپلو کروندو او بڼونو کې د غلو او دانو په کرلو او نیالګیو په ایښودلو او د یو هوسا، نیکمرغه او له خیر او برکت څخه ډک کاَل په هیله خپلې متې رانغاړي او په خوارۍ او زیار پیل کوي او د نباتاتو او حیواناتو په روزلو د ځان او خپل هیواد بنسټیزې ریښې ټینګوي.

د پوهنې وزارت چې د هیواد د څه باندې لس نیم میلیونه زده کوونکو د بڼ د ملیار دنده په غاړه لري د کاَل نوې ورځ د ښوونځي د زنګ په کړنګولو سره د ژمي د رخصتیو د پای اعلان کوي او ځوانان نجونې او هلکان د نوي ټولګي د درسونو پیل ته رابولي چې له دې سره د کاَل نوی موسم که له یوې خوا د شنو شینیلیو په راټوکیدو او ونو او بوټو په زرغونیدو ښکلی شي له بلې خوا ښوونځي، پوهنتونونه او ښوونیزې اداري مو د زده کوونکو او محصلانو په تعلیمي او تربیتي هڅو او هیلو رنګینه کیږي او دا هغه څه دي چې زموږ د هیواد د هر هدفمند او په هیواد مین انسان روح ورباندې آرامیږي او سکون ترلاسه کوي.

بلې! زموږ هیله، زموږ ارمان، زموږ غوښتنه او زموږ دعا داده چې د هیواد د پوهنې د بڼ غوټۍ وغوړیږي، زموږ خلك او زموږ ځوانان له دنیا والو سره سیال شي او په نړۍ کې سرلوړي ژوند وکړي او نور ورته په پردیو هیوادونو کې د څلورمه او پنځمه درجه انسان په سترګه ونه کتل شي.د پوهنې وزارت مشرتابه د هیواد د خلکو او ځوانانو د اوسنیو حساسو ښوونیزو او روزنیزو حالاتو ته په پوره پاملرنې سره نه سترې کیدونکې هڅې کوي څو د بهرنیو مرستو په را جلبولو او تر لاسه کولو سره د پوهنې روان چټك بهیر لا نور هم ګړندی کړي د پوهنې وزارت یو ځل بیا د خپلو هیوادوالو په وړاندې خپل هوډ نوی کوي چې له ټاکلې مودې مخکې به خپلو تعلیمي هدفونو ته ورسیږي. د پوهنې جلالتماب وزیر لندن، ترکیې او اسلام آباد ته د خپلو وروستیو سفرونو په ترځ کې پدې و توانیده چې د افغانستان له معارف سره د نړیوالو مرستو ژمنې ترلاسه کړي، د پوهنې ښاغلي وزیر « دپوهنې لپاره د نړیواَل مشارکت » GPE د ۶۰ غړو هیوادونو د مالي مرستو د را جلبولو او د دې پروګرام د پایښت د استازي او مخکښ لقب هم ګټلی دی. راځئ چې د هیواد د پوهنې د جلالتماب وزیر په پل، پل کیږدو او د پوهنې د بڼ د غوړیدو او د ګران هیواد د سمسورتیا لپاره د همت متې راونغاړو او د هیواد پسرلي په علم او پوهې د سمبالو ځوانانو په روزلو، ښکلی، تازه او ښیرازه کړو. ومن الله توفیق

### د لومړي مخ پاتې

## د ۱۳۹۳ تعلیمي...

او نړیواَل رسالت ادا کړی دی.

خو له دې هر څه سره سره دا حقیقت باید له پامه و نه غورځول شي چې هېواد مو د پوهنې د پرمختګ په لاره کې له ځینو ستونزو، خنډونو او ګواښونو سره لاس او ګریوان دی چې د هغه حل د پوهنې وزارت پر منسوبینو سربیره د ټولو هېوادوالو او په ځانګړي ډول د خصوصي سکتور، علمای کرامو، قومي مخورو، د زده کوونکو د د والدینو، ښوونکو او زده کوونکو ګډه دنده او وجیبه ده.

د همدې موخې د تحقق لپاره باید د معارف منسوبین خپل مدیریت پیاوړی، د ولس حمایت تر لاسه او خپله زیاته پاملرنه د ښوونځیو او جوماتونو ترمنځ ګډې همکارۍ ته ځانګړې کړي. همدا راز علمای کرام دې د خپل دیني او ملي رسالت په اداء کولو سره د جوماتونو د ممبرونو له لارې خلك وهڅوي چې خپل اولادونه ښوونځیو ته ولیږي او عام وګړي د ښوونې او روزنې په برخه کې خپل دیني مسوولیتونو ته متوجه او په ښوونځي کې د زده کړې پر مهاَل دې د خپلو اولادونو کلکه څارنه وکړي.د زده کوونکو له والدینو او اولیاوو څخه یو ځل بیا ځانګړې غوښتنه کوم چې ښوونځي ته د خپلو لوڼو د شمولیت په برخه کې جدي پاملرنه وکړي، ځکه چې د یوه هلك په روزلو سره ښایي یوازې یو انسان په پوهه سنبال شي، خو د یوې نجلۍ په روزلو سره یوه کورنۍ څه چې یوه ټولنه د زده کړې په زیور سنبالیږي.

د پوهنې وزارت له ټولو متمولو او شتمنو هېوادوالو څخه هیله کوي، چې په خپلو سیمو او په ځانګړې توګه هغو سیمو کې چې ښوونځي ودانۍ نه لري ښوونځي په خپلو مالي مرستو جوړ کړي او همدا راز د خپلې شتمنۍ یوه برخه د جاریه صدقې په ډول د ابدي دنیا ارزښتمنه پانګه وګرځوي.

خصوصي سکتور دې زموږ د ټولنې د ودې لپاره د یوه خوځیدونکي ماشین په توګه د پرمختګ اصلي عنصر (پوهنې) ته زیاته پاملرنه وکړي او دخپلې پانګې یوه برخه دې د ټولنیز پرمختګ په دې مهمه او حیاتي څانګه کې په کار واچوي.

یو ځلې بیا تاسو ټولو ته د نوي ۱۳۹۳ تعلیمي کال مبارکي وایم.

### بقیه صفحه اول

## گزارش مختصر دست...

- فعلاً به تعداد ۱۰،۵ میلیون شاگرد در ۱۶۶۰۰ مکتب و مراکز آموزشی مصرف فراگیری دانش هستند که ۳۸ در صد آنان را دختران تشکیل میدهد.

- به تعداد ۷۷۰ هزار تن از افراد موسن در ۳۰ هزار کورس سواد آموزی تنظیم و مصروف آموختن سواد هستند که ۶۲ فیصد آنان را خانمها تکشیل میدهد. در نظر است که برای این افراد آموزش های حرفوی نیز فراهم گردد.

- همین اکنون در کشور ۲۸۸ باب مراکز تربیه معلم نیمه عالی فعال بوده که ۶۸ هزار تن در آن مصروف آموزش میباشند که ۴۲ در صد آنرا دختران و خانمها تکشیل میدهد.

- وزارت معارف طی ده سال برای ۸ هزار مکتب عمارات جدید اعمار نموده است که هنوز پنجاه در صد مکاتب ما بدون تعمیر میباشد.

- فعلاً ۵۱ در صد معلمین ما دارای تحصیلات عالی و نیمه عالی میباشد و از جمله ۲۱۰ هزار معلم ۳۲ در صد آن طبقه اناث میباشد.

- نظام معارف ما با تلاش های خسته گی نا پذیر جلالتمآب وزیر معارف لقب پیش آهنگ و نماینده جلب همکاری های مالی ۶۰ کشور (مشارکت بین المللی معارف) را کسب نموده است.

- به تعداد ۳۰۶ باب مکتب ابتدائیه به متوسطه و ۲۶۰ باب متوسطه به لیسه ارتقا نموده است.

- به تعداد ۴۸۷۴۵ تن طالب العلم جدیداً در مرکز تعلیمات اسلامی جذب گردیده که تعداد مجموعی طالب العلمان این برنامه به ۲۵۰ هزار تن افزایش یافته که ۴۰ فیصد آن اناث تشکیل میدهد.

- در سال ۱۳۹۲ به تعداد ۵۲۳ تن مدرس در مراکز تعلیمات اسلامی جدیداً جذب گردیده که تعداد مجموعی آن به شمول ۳۹۶ تن اناث به ۶۸۶۳ تن میرسد.

- به تعداد ۱۰۰ باب موسسه تعلیمات اسلامی در سال ۱۳۹۲ جدیداً به فعالیت آغاز نموده که با این افزایش تعداد مجموعی موسسات تعلیمات اسلامی در کشور به ۱۰۰۱ باب میرسد.

- به تعداد ۱۷۲ باب موسسه تعلیمی خصوصی به سطح مرکز و ولایات کشور جواز فعالیت دریافت نموده اند.

### ۲- در بخش انکشاف نصاب، تربیه معلم و مرکز ساینس

-تألیف کتب رهنمای معلم تعلیمات عمومی برای صنوف دهم الی دوازدهم تکمیل گردید.

- تألیف کتب رهنمای معلم صنوف ۷-۸-۹ مدارس دینی تکمیل گردید.

- تألیف کتب رهنمای معلم تعلیمات اسلامی برای صنوف هفتم الی نهم تکمیل گردید.

- تألیف کتب رهنمای معلم صنوف ۱- ۶ زبان های سوم تکمیل گردید.

- بانک سوالات تهیه گردیده است.

- تألیف کتب درسی مدارس دینی صنوف ۱۰ – ۱۱ - ۱۲ تکمیل گردید.

- کتب درسی دوره اساسی و ثانوی ازطریق مرکز تحقیق مورد ارزیابی قرار گرفت.

- به تیراژ (۳۴) میلیون جلد کتاب چاپ و به تعداد ۲۱۳۸۴۷۷۰ جلد آن که شامل صنوف اول الی ۱۲ می شود از طریق ریاست نشرات و اطلاعات وزارت به مکاتب ولایات توزیع گردیده است.

- به تعداد ۳۹۲۳۱ تن محصل جدید در مراکز تربیه معلم جذب گردیده است

- بمنظور آشنایی استادان دارالمعلمین ها با نصاب تعلیمی جدید به تعداد ۳۰۵ تن استادان دارالمعلمین ها در مورد ویژگی های نصاب جدید و روش تدریس و تطبیق در اکادمی ملی تربیه معلم آموزش های لازم را فراگرفتند.

- به تعداد ۲۰۰ تن استاد به شمول ۸٪ اناث جدیداً استخدام و در مراکز تربیه معلم توظیف گردیده اند که تعداد مجموعی استادان رسمی تربیه معلم در سال ۱۳۹۲ به ۲۲۵۸ تن می رسد.

- به تعداد ۲۴ باب مرکز حمایوی تربیه معلم به سطح ولسوالی ها جدیداً ایجاد گردید است.

- برای ۹۹۷ تن معلم در مرکز و ولایات سیمینار های آموزشی ساینس تدویر گردیده است.

- به تعداد ۱۹۶ قلم سامان و مواد لابراتواری کیمیا برای ۲۵۰ باب مکتب تعلیمات عمومی، دارالمعلمین ها توزیع گردید است

- به تعداد ۲۵۰ کیت ریاضی و ساینس برای ۲۵۰ باب مؤسسات تعلیمی منجمله ۵ دارالمعلمین، یک باب مدرسه و ۲۴۴ باب مکتب تعلیمات عمومی توزیع گردید است.

- به تعداد ۱۲۰۰ مدل مختلف النوع بیولوژی تولید گردیده و به تعداد ۱۴۲۰ مدل (بشمول مدل های موجود) برای آمریت های ساینس ریاست های معارف ولایات و مکاتب توزیع گردید است.

- به تعداد ۳۷۱۲۰ چارت آموزشی مضامین ساینس و ریاضیات دیزاین، چاپ و برای آمریت های ساینس ولایات و مکاتب توزیع گردیده است.

- به تعداد ۲۰۴۰۰۰ جلد کتب رهنمای تجارب صنوف ۴ - ۹ مضامین کیمیا، بیولوژی، فزیک و ریاضی برای معلمین مکاتب مرکز و ولایات توزیع گردیده است.

- به تعداد ۳۰۰ پایه میز لابراتوار تولیدی ریاست تولید مواد ممد درسی تولید و به تعداد ۵۸ پایه آن توسط اعضای مسلکی آمریت تولید توزیع گردیده است.

### ۳- تعلیمات تخنیکی و مسلکی

- با جذب ۲۵۸۶۹ تن شاگرد جدید تعداد مجموعی شاگردان تعلیمات تخنیکی و مسلکی با تفرق فارغان سال ۱۳۹۱ به ۸۵۴۱۵ بشمول ۹۰۵۶ تن اناث افزایش یافت.

- در سال ۱۳۹۲ به تعداد ۵۱۶ تن معلم بشمول ۹۰ تن اناث جدیداً استخدام گردیده است.

- در سال ۱۳۹۲ با تأسیس ۳۵ باب موسسه تعلیمات تخنیکی و مسلکی جمعاً موسسات این برنامه از ۲۱۰ باب به ۲۵۰ باب افزایش یافت.

### ۴- سواد آموزی

- در سال ۱۳۹۲ به تعداد ۴۶۱۹۰۴ تن سواد آموز جدید که ۴۵% آن را سواد آموز اناث تشکیل میدهد در ۱۹۷۸۷ کورس سواد آموزی جذب گردیده است.

- با استخدام ۱۰۰ تن معلم دایمی بشمول ۱۰ تن اناث تعداد مجموعی معلمین سواد آموزی به ۳۶۷۴تن معلم میرسد، علاوه برآن به تعداد ۱۰۸۹ تن معلم قراردادی نیز استخدام و به کورس های سواد آموزی توظیف گردیدند.

- به تیراژ ۱۳۸۱۸۴ جلد کتب درسی دوره اساسی و مابعد چاپ و به تیراژ ۱۱۶۰۴۶ جلد آن به دسترس سواد آموزان قرار گرفت. ضمناً به تیراژ ۱۱۹۳۶ جلد کتب رهنمای معلم نیز چاپ و به دسترس معلمان سواد آموزی قرار داده شده است.

- به تعداد ۴۳۹ تن از اعضای نظارت تعلیمی، پلان، احصائیه و ارزیابی در مورد نظارت، جمع آوری، معلومات احصائیوی، ارزیابی و ترتیب پلان درسی به همکاری مالی پروژه لیف دوم جایکا در مرکز و ولایات آموزش های لازم دیدند.

- به تعداد ۱۹۴ تن سواد آموز بشمول ۸۰% اناث تحت آموزش های حرفوی قرار گرفته است.

### ۵-اداره معارف و انکشاف مدیریت استراتیژیک

- در سال ۱۳۹۲ به تعداد ۱۳۹۷۴ تن منسوبین (معلم، مامور و کارکنان خدماتی) شامل سیستم جدید رتب و معاشات گردیده که از آغاز پروسه اصلاحات اداره ملکی افغانستان در وزارت معارف تا اکنون ۸۸% منسوبین وزارت معارف شامل سیستم جدید رتب و معاش گردیده اند.

- به تعداد ۹۶۶ تن کارمند (۴۸۴ در مرکز و ۴۸۲ تن در ولایات) در بخش های مختلف از طریق تدویر ورکشاپ ها آموزش های لازم را دریافت و ظرفیت شان ارتقا یافته است.



- به تعداد ۵۴۴۷ تن مدیران، سرمعلمان و اداره چیان مکاتب ( منجمله۱۹.۲۷% اناث)، از آموزش های SMT۴ (آموزش مدیریت مکتب) مستفید گردیده اند.

همچنان قابل یاد آوری است که در اکثریت ولایات کشور شهرک های معلمین ایجاد و برای معلمین مستحق نمرات رهایشی و فورمه های آپارتمان توزیع گردیده است.

### و فراتر ازین:

- آن عده از شاگردان مکاتب ابتدائیه مخصوصاً شاگردان اناث که نسبت بُعد مسافه و عدم موجودیت مکاتب متوسطه و لیسه در نواحی شان نمیتوانستند تعلیمات خویش را ادامه دهند، از طر یق ارتقای مکاتب ابتدائیه به متوسطه و متوسطه به لیسه زمینه دوام و فراگیری تعلیم برایشان مساعد گردیده است.
- بمنظور تشویق و ترغیب سکتور خصوصی و دسترسی بیشتر به تعلیم از طریق صدور جواز فعالیت، مکاتب خصوصی حمایت گردیده و با ایجاد مکاتب خصوصی دسترسی به تعلیم افزایش یافته است.
- برای تشویق محصلین اناث دارالمعلمین ها، مبلغ (۳۳۶۰ افغانی معادل ۶۰ دالر امریکائی) پول تشویقی سکالر شیپ پرداخته میشود.
- برای جذب طبقه اناث به حیث معلم مسلکی معاش تشویقی در نظر گرفته شده است که برای ۹۰۳ تن استاد اناث دارالمعلمین ها د ر ۱۸ ولایت کمتر انکشاف یافته ماهوار مبلغ ۱۰۰۰۰ افغانی معاش منطقوی اجرا میشود
- در رابطه به اضرار فساد اداری به تعداد ۲۰ برنامه آگاهی دهی برای معلمین مکاتب راه اندازی گردیده است.

**تهیه و ترتیب: گل رحمان رحمان**

Weekly
Marif
Newspaper

مسوول مدیر:
محمد نسیم "عیاذ"
کتنپلاوي:
محمد کبیر حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان
عبدالصبور غفراني-قاري محمد نبي محمدي - محمد اکرم وفادار

خبریال:
- محمد طائب عمري
کمپوز او ډیزاین
بریالی رحمانزی

انځور اخیستونکی:
تمیم نوري
شمیر:
۲۰۰۰

دیجیتل: (۰۲۰۲۱۰۴۳۱۶)
ایمیل: marif.newspaper@hotmail.com
پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت

# هر روز تان نوروز، نوروز تان بهروز

## پوهنیز چاپېریال او اخلاقي ښکلا

ګل آغا احمدي

په ټولګي کې د زده کړې منظم بهیر له زده کوونکي سره مرسته کوي څو په تدریجي توګه هغه وړتیاوې خپلې کړي چې د لیک لوست او سواد د زده کړې د حصول په لاره کې مرستندویه واقع کیږي او نوموړی وکولای شي چې د زده کړې د طبعیت له مخې ګام پر ګام مخته ولاړ شي او د پوهنیزې ودې د لاسته راوړلو لویه موخه ترلاسه کړي. په ټولګي کې زده کړه د کتاب یا مروجو مضمونونو له مخې تر سره کیږي خو کتاب د ښوونکي په وسیله تدریس کیږي او که ښوونکی نه وي نو یوازې د کتاب موجودیت د دې جوګه نه شي کیدای چې یو زده کوونکی دې پخپله زده کړه تري وکړي. همدارنګه د اسلام د ستر پیغمبر د یوه حدیث پر بنسټ ښوونکی د زده کوونکي لپاره د پلار حیثیت لري او زده کوونکی اړ دی څو د متقابل احترام هغه ټول اصول په پام کې و نیسي چې د خپل پلار په حق کې یې په پام کې نیسي. همدارنګه د اسلام ستر پیغمبر صلی الله علیه وسلم د خپلو ارشاداتو په لړ کې فرمایلي دي چې: ژباړه ( په تحقیق سره زه ښوونکی لیږلی شوی یم) چې معنا یې دا ده چې د اسلام ستر پیغمبر پخپله د ټول انسانیت لپاره د یوه معلم په توګه رالیږل شوی دی.

ښوونکی پر زده کوونکو باندې ډیر حقوق لري او زده کوونکو ته لازمه ده چې د هغه خبره واوري، احترام یې و کړي، د



زده کړې په چارو کې یې له مشورو څخه برخمن شي او بالآخره د زده کړو په لړ کې یو داسې ماحول رامنځته شي چې په آسانه او له محبت څخه ډکه فضا کې ټاکلې موخې په ښه توګه ترلاسه شي.

په دې کې شک نشته چې د درې نیمو لسیزو په ترځ کې بدمرغو جګړو، ناورین او لویو غمیزو افغانستان ته بې شمیره مادي او معنوي زیانونه رسولي دي چې د دې زیانونو تر ټولو ورانونکې برخه زموږ د ټولنې قانوني بنسټونو، ټولنیزو اخلاقو او معنوي زیربناوو ته رسیدلې ده چې په ډیره بې پروا توګه یې زموږ د هیواد د خلکو د مختلفو پرګنو تر منځ متقابل احترام ته تر ډیره حده پورې صدمه رسولې ده او سخت یې ځپلی دی. د دغه متقابل احترام مهمه لړۍ په ټولګي کې د ښوونکي او زده کوونکي تر منځ هغه وخت د عمل ډګر ته را وزي چې د زده کړې دغه دوه مهم عناصر یا اطراف ګډ علمي ژوند پیلوي او د زده کړې په لور ګامونه ږدي. له بده مرغه لیدل شوي دي چې په ځینو مواردو کې د زده کوونکو له لوري خپلو ښوونکو، استادانو او مدرسینو ته بې احترامي کیږي، د هغوی خبره نه اوري، په عادي موضوعاتو خبره د جګړې لور ته کشول کیږي او حتی چې په ځینو مواردو کې ښوونکي د زده کوونکو له لوري تهدید کیږي. همدارنګه له بده مرغه کله کله خبره تر دې حده را رسیږي چې ځینې زده کوونکي له ښوونکو سره د تاوتریخوالي له لارې فزیکي برخورد کوي، خپل ښوونکی آزاروي او د نوموړي د دندې د مخته بیولو په مقابل کې ستونزې را ولاړوي. د دې لپاره چې دغه ډول ستونزو ته معقول حل و موندل شي نو زده کوونکو ته لازمه ده چې د اسلام د مبارک دین، د افغاني اصیلو دودونو او ټولنیزو اخلاقو د عملي کولو له لارې د خپلو استادانو، ښوونکو او مدرسینو سره د خپلو پلرونو په څیر رفتار وکړي، د هغوی زیات احترام و ساتي، له هغوی څخه دعاوې وغواړي او د زده کړې په چارو کې یې له ګټورو مشورو څخه په سمه توګه برخمن شي.

د لومړي مخ پاتې

## په نوي کال کې به...

کال ته به د یاد ولایت د زده کوونکو د درسي کتابونو د کمښت مهمه ستونزه په بشپړ ډول هواره شي، د ده په خبره اوسمهال ورته د پوهنې وزارت څخه د زیاتره ټولګیو درسي



کتابونه رسیدلي او ځنې پاتې کتابونه به هم په نږدې راتلونکي کې ورته ورسیږي.

نوموړي په روان کال کې پر وخت د یو شمیر ښوونکو د معاشونو د نه اجراء ستونزو ته هم اشاره وکړه او زیاته یې کړه، چې نوي مالي کال کې به ښوونکي د میاشتنیو معاشونو په اخیستلو کې کومه ستونزه ونه لري.

له لومړي ټولګي څخه تر شپږم ټولګي پورې ټول کتابونه په مکمل ډول د پوهنې د محترم وزارت څخه رارسیدلي دي او موږ په دې هڅه کې یو چې په دې نږدې شپو ورځو کې هغه تعداد کتابونه چې په پکتیکا کې یې له کمښت سره مخامخ یوو، هم را انتقال کړو او په توزیع یې پیل وکړو".

د پکتیکا د پوهنې رئیس وړاندې وایي، چې د ښوونکو د ظرفیت لوړولو له پاره یې هم بیلابیل روزنیز پروګرامونه په پام کې نیولي، تر څو ښوونکي په خپلو اړونده څانګو کې پوره مهارت ترلاسه کړي.

نوموړي په دې برخه کې د پوهنې وزارت د پروګرامونو په چوکاټ کې د افغان پرمختګ ټولنې د هغه پروګرام یادونه وکړه، چې ۴۴ مسلکي او د لیسانس په کچه ښوونکي یې په لوړ معاش په دنده ګمارلي او دا ترینران به د څوارلسو میاشتو په اوږدو کې ۷۰۰۰ ښوونکي وروزي.

د افغان پرمختګ موسسې یو کارکوونکی عبدالمنیر د یاد پروګرام د څرنګوالي په تړاو وایي، چې نوموړې برنامه به اوسمهال د پکتیکا ولایت د اوو ولسوالیو په ساحه کې شاوخوا اوه زره ښوونکي په اکاډمیک او میتودیک ډول وروزي.

"موږ بیا هم د یو نیم کال له پاره دا پروګرام د پکتیکا ولایت په اوو ولسوالیو کې تطبیقوو، موږ د ۱۱۶ تنو څخه آزموینه اخیستی چې له دې ډلې څخه موږ څلوېښت تنه په بیلابیلو څانګو کې استخداموو او دوی به هم په خپلو اړوندو څانګو کې استادانو ته سیمینارونه ورکوي، د ښوونکو ستونزې به حلوي تر څو د دوی په واسطه زموږ د شاګردانو ستونزې حل شي".

د یادونې وړ ده، پکتیکا د افغانستان په سویل ختیځ زون کې د هغو ولایاتو له ډلې ده، چې په ډیرو ښوونځیو کې د مسلکي او وړ ښوونکو ستونزه لا تر اوسه محسوسه ده .

غفرانی

## زن را ستایش می کنیم، زیرا مادر است

زن از دیدگاه دین مقدس اسلام دارای جایگاه خاص و با عظمت بوده و از عزت و شخصیت بزرگ برخوردار است .

زن که در جامعه جاهلیت شدیداً زیرظلم و ستم نفس می کشید و هر روز مظالم غیر قابل تصور و غیر قابل تحمل را متحمل میشد حتی زنده به گور می شدند و تولد شان را شرم و عارمی دانستند، با طلوع انوار دین مبین اسلام جایگاه خاص را در جامعه انسانی احراز و به آنان توجه خاص صورت گرفت. دین مقدس اسلام مقام و منزلت زن و مادر را به جای رساند که سزاوار آن است.

حسب ارشادات گهربار پیامبر اسلام



حضرت محمد (ص) زن می تواند با رعایت و حفظ ارزشهای دینی به تحصیلات پرداخته و علم بیاموزد و هم چنان در تمام امور اجتماعی ، اقتصادی و غیره جامعه سهم فعال داشته باشد .

چنانچه ام المومنین حضرت بی بی خدیجه (رض) تجارت پیشه بود و مانند برادران مرد خود در دادوستد اموال تجارتی مهارت کافی داشت.

دین مبین اسلام همچنان بهشت را زیر قدم های مادران می داند یعنی رفتن به بهشت برای اولاد مربوطه و منوط به رضایت مادران می باشد و آنانیکه از اطاعت مادران شان سر کشی کند از نعمت بهشت محروم خواهد شد .

با توجه به آنچه گفته آمدیم ، رهبری وزارت معارف افغانستان نیز بعد از ایجاد دولت جدید جمهوری اسلامی افغانستان در روشنایی قانون اساسی کشور آنعده دخترانی که واجد شرایط مکتب بود زیر چتر نظام آموزش بسیج نموده و خواهران و مادرانی عزیزی که نسبت معاذیر نتواسته بودند به تعلیم دست یابند به کورس های جدیدالتشکیل سواد آموزی ، تحت آموزش سواد یعنی خواندن ، نوشتن و حساب کردن قرار داده که در این راستا اهتمام جدی به زنان شده که همین اکنون ۶۰ در صد مشمولین کورس های سواد آموزی را در کشور خانم ها تشکیل میدهد .

هم چنان با الهام از تجارب کشورهای همسایه و همانند افغانستان، وزارت معارف افغانستان تصمیم گرفت تا به منظور بهبود وضعیت معیشتی خانواده ها در پهلوی آموزش سواد برای شاملین کورسها که اکثراً متکفل فامیل های شان هستند حرفه های چون خیاطی ، سوزن دوزی ، چرمگری ، باغداری ، مالداری ، فلزکاری ، نجاری ، قالین بافی و غیره را آموزش دهند تا باشد همزمان با یاد گیری، خواندن ، نوشتن و حساب کردن یک مسلک و حرفه را به خاطر امرار حیات و تقویه بنیه مالی و اقتصادی خانواده های شان آموخته و از این طریق وضعیت اقتصادی فامیل های خود را بهبود بخشد.

همچنان حضور خواهران ما در تمام عرصه های تعلیمی وزارت معارف به وضوح محسوس بوده چنانچه از جمع ۲۱۰ هزار تن معلم در نظام آموزش کشور (۳۱) درصد آنها زنان و از جمله ۱۰/۵ میلیون شاگرد (۳۸) در صد آنها را دختران تشکیل میدهد

رهبری وزارت معارف کشور کماکان سعی نموده که برای خانمها با توجه به نقش آنها در غنامندی و موثریت سیستم تعلیم و تربیه در جامعه سهم بر ازنده داده و زمینه بیشتر فعالیت را فراهم سازد.

## از هشتم مارچ روز بین المللی زن تجلیل به عمل آمد

بمنظور گرامی داشت از هشتم مارچ روز بین المللی زن، محفلی با شکوهی به اشتراک محترم مؤلف دکتور اسد الله محقق معین انکشاف نصاب تعلیمی و تربیه معلم، محترم پوهندوی سید اصغر حیدری رئیس عمومی مرکز ساینس و تکنالوژی تعلیمی، رؤسا و کارمندان این ریاست در تالار کنفرانس های ریاست عمومی مرکز ساینس و تکنالوژی تعلیمی تدویر گردید.

محفل با تلاوت آیاتی چند از کلام الله مجید آغاز و سپس محترم دکتور اسد الله محقق معین انکشاف نصاب تعلیمی و تربیه معلم در رابطه به جایگاه زن در اسلام صحبت همه جانبه نموده افزود: موقف زن در جامعه ما بعداز سپری شدن فرازنشیب های زیاد به جایگاه اصلی خویش رسیده است و ما همه ساله در پهلوی این که از روز جهانی زن تجلیل به عمل می آوریم عملاً هم در قسمت حقوق و بهبود زندگی زنان افغان قدم های متین و استواری برداشته ایم. بعداً محترم پوهندوی سید اصغر حیدری رئیس عمومی مرکز ساینس و تکنالوژی تعلیمی در رابطه به روز جهانی زن و حقوق زنان از دیدگاه اسلام و منع خشونت علیه زنان صحبت عالمانه نموده و از اشتراک کنندگان خواست تا در مراودات خویش از اصول و معاشره پیامبر بزرگ اسلام پیروی نمایند. متعاقباً چند تن از اشتراک کننده گان مقالات و اشعار ترتیب شدۀ خویش را به خوانش گرفتند که مورد استقبال گرم شرکت کنندگان محفل قرار گرفت. محفل با دعا خیر و توزیع تحایف از طرف ریاست عمومی مرکز ساینس و تکنالوژی تعلیمی پایان یافت.